ولی محمد نورزی ۰۶/۰۳/۲۰۱۲

# دافغانستان نامتو سندرغاړی ظاهر هویدا په آلمان کي په حق ورسیدې






د افغانستان نامتو مشهور سندرغاړی ظاهر هویدا نن سهار(دوشنبه د کب په ۱۵ نیټه اود ۲۰۱۲ میلادی کال د مارچ د میاشتی په پنځمه نیټه دهجرت په خپوکي د اووه شپېته کلونو په عمرد آلمان د هامبورګ په ښارکي وفات شو. انا لله وانا الیه راجعون.
ظاهرهویدا په( ۱۹۴۵ میلادي کال) په دایکنډي کې زیږېدلی وو،چې هماغه وخت د بامیان ولایت په نامه یادیدی.
ظاهرهویدا په یوه غریبه کورنۍ کې نړی ته سترګې رنې کړې وې . هویدا دخپل دژوند په درشل کي ډیرکړاوونه اوستونزې ګاللي دی. د ده د ژوند ستونځي لا هغه مهال زیاتي شوې چې دئ اووه کلن وو او پلار يې له لاسه ور کړی.
ظاهرهویدا په ۱۹۵۳ میلادی کال کی د مزار شریف د سلطان غیاث الدین په لمړنی ښوونځی کی شامل شو. په دغه وخت کي د ظاهرهویدا ګران پلار د ۳۳ کلنو په عمرپه مزار شریف کی وفات شو. ظاهرهویدا د خپل ورونو اوکوڼدی مورسره یواځی پاتی شول او په مزاری شریف کی یی دخپل ژوند سختی شپی اوورځی د خپل کاکا سره تېري کړي خووروسته بیا دده کورنۍ کابل ته ولاړه.اود کابل دچنداولو په سیمه کی میشت شول په دغه وخت کي هویدا د زده کړی لپاره د سید جمال الدین افغان په ابتدایی لمړنۍ ښوونځی کي شامل شو.
ظاهرهویدا لا ۱۳ کلن وو چې کورنۍ یې د کابل د کتاب فروشی کوځي ته کډه وکړه او هویدا دا وخت د کابل د استقلال په لېسه کې شامل شو. ظاهر هویدا د خپلو ټولګیوالو په منځ کي ډیر مخکښ او لایق شاګرد وو. خو د اقتصادي ستونزو له کبله يې درس تر پایه ونه لوست او دخپلی کورنۍ سره یی د مرستي لپاره د سګرټ خرخولو،کتاب پلورلو، او هم دا رنګه دیوي مودی لپاره له موچي سره شاګرد پا تي شوی دی. بیا وروسته د خیاط شاګرد او څه موده هم د طبیب یا حکیم شاګرد وو. او څه باندی دوه کاله یی د سینما ټکټونه پلورلي دی. چه په دی هکله هویدا د خپلی کورنۍ لپاره د یوی ګولي ډوډۍ د پیداکولو هڅي کړي دي. هویدا په ۱۳ کلنې کی د خپل ږغ د آزمایښت لپاره خپل ځان د موسیقی وسمندرته ور وروغورځا وه اود زده کړی په څنګ کی یی دهنراوموسیقی ښانګه غوره کړه او په دی لاره کی یی خپلي هڅي نوری هم ګړندې کړی.

د تحصیلاتو څخه ورو سته هویدا د تیاتراو هنر ډګرته ورودانګل. د استاد نینواز، رحیم جهانی،او خپل ورور کبیرهویدا په مرسته یی دموسیقی ځا نګړي ارکسترجوړکړ. اود هیواد دهغه وخت په جشنونوکي ډیربنه وځلیدی.
په ۱۹۷۰ میلادی کال کي ظاهرهویدا د افغا نستان د منل شووسندرغاړوپه ډله کي را غلي اود( کمر باریک) سندره یی د شهرت وهسک مقام ته ورسیده.هویدا د موسیقی سره ډیره مینه درلوده او په دی لاره کي یی د مو سیقی د استادانو څخه ډیرڅه زده کړی هم دي.ظاهرهویدا د موسیقی په هنری برخوکی ډیرکنسرتونه ورکړیدی، او د وخت دشاهی نظام غړو هم د ده دسندروسره علاقه درلودله.
هویدا د موسیقۍ ډګرته ترداخلېدو کلونه وروسته په(۱۹۶۳) میلادی کال کې د اماتورو ارکستر هنری ګروپ جوړکړي، او د آماتوروسندرو په ویلو یی پیل وکړي. ظاهرهویدا د موسیقی د لا ښه پر مختګ لپاره دیوه وتلې سندرغاړي په تو ګه دیوه تحصیلی بورس لپاره دچایکووفسکی د مؤسیسی په بلنه د شوروی اتحاد پلازمینی مسکوښارته ته ولاړي. او هلته


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

يی د موسيقی په ځانګه کي مسلکی زده کړی وکړی. هويدا هيواد ته د ستنيدو نه ورو سته ديوه مسلکي تجربه کاره اوعصری هنرمند په تو ګه د عصری نوی موسيقی دخوځښت لپاره نوی بنسټ کښيښودی.
ظاهرهويدا د افغا نستان دوتلی هنرمند مرحوم احمد ظاهر په موافقه دهغه خوږه سندره چي(ګر زلف پريشانت) په ډيره ښه ډول سره وويله او د خلکو د تشويق او ستاينی وړوګرځيدی.
ظاهرهويدا تا جکستان، ايران، شوروی اتحاد ،امريکا او اروپا يی هيوادوکی کنسرتونه ورکړی دي.اوپه دی لاره کي بريالي را وتلې دی.
ولی ظاهرهويدا د ايران د هنری تکړه سندر غاړوسره يوځای په ګډه هم ډيری سندری ويلی دي چي دهغه وخت دايران په دولتی تلويزيون کي دهغه سندری خپری شوي دي. د ده په سندرو کي د محلی ، طبيعت او کلتوری ځلا اوخوند له ورايه ښکاري اوپه غزولو کي دسياست څخه ليری پا تي شوی دئ.
هويدا يواځي د سردار محمد داؤد د جمهوريت په وخت کي خبری وکړي او د جمهوری نظا م ستاينه يی په غزولوکي ورګډ کړه، نوموړی د پښتو سندرو سره ډيره علاقه درلوده او د استاد اولمير د پښتو سندرو او غزولو ته ډير ليوال وو ،ولی دهغه استاد ډيرنژدی ملګری پا تی هم شوی دي، مګر په خپله يی په پښتو سندری نشوای ويلای.
هويدا په ۱۹۸۹ ميلادي کال دجګړو له موخی له هيواده مهاجرشو، دوه کاله يې په هند کې تېر کړل او په ۱۹۹۱ ميلادی کال کې جرمني ته ولاړی. ده د مرګ تراخيره ورځې پوری د ژوند پاتې وختونه د هامبورګ په ښارکې تېر کړل.او دهجرت په دغو شلوکلنو کی په تياتر، سينما، او د موسيقی د ژوري په حيث برخه اخسيته ده اودموسيقی مينووالوته نوی کمپيوزونه جوړکړی دی اوهمدارنګه نوی سندری يی هم ويلی دې.

ظاهر هويدا د افغاني موسيقۍ په وده او پر مختګ کې ډېر زيار ايستلی دی.
ظاهر هويدا دافغانستان په ملی تلويزيون او راډيو کی ډيری سندری لری او دهجرت په موده کی هم د مينووالو دغوښتني سره سم خپلی هڅي نه دی سپمولي، او سره له دې چې په افغانستان کې د موسيقۍ د مدرنوآلو په معرفي کولو اوعام کولو کې يې لوی رول لوبولی دی په سلګونو سندرې يې مينه والو ته پريښي دي.
د ظاهرهويدا زوی آرش هويدا هم د خپل پلار په شان د موسيقی مسلکی لاره غوره کړيده اود افغانی ځوانو سندرغاړو د کمپوزاو آواز د جوړولو چاری پر مخ بيايی.
زه د موسيقی د دی لوړ نامتو سندرغاړی مرګ د موسيقی په برخه کی يوه ستره نيمګړ تيا ګڼم او دخپل ځان له لخواه د ده درنې کورنۍ ته تسليت وايم اودخدای تعالی(ج) څخه و نوموړی ته د جنت فردوس د دعا لاسونه پور ته کوم.
الله امين.


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ